مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد



ولي الله ملکزی


۲۰۲۴/۰۳/۰۹

# د سره بیرغ زوال



(د سره بیرغ زوال) د یوې داسې ښیرنې نوم دی چې روایت، درایت او ولوله په کې یو له بل سره غاړه غړې بریښي. دلته د یوې داسې مفلسې ایډیالوژۍ د زنګدن شیبې شمارل شویدي چې له اولې ورځې په ماتې محکومه وه. دلته د کمونیزم په فکري جوړښت او اخلاقي زوال خبرې شوي چې ولې یې په دین پالو ټولنو کې معنوي ارزښتونه ایپن وګڼل؟ دلته په اشارو او کنایو کې، د کلخوز او سلخوز اقتصادي نظریه نقد شوې او هغه یې د ملکیت د فطري غوښتنې خلاف یوه ناچله قباله ګڼلې ده. له ختیزې اروپا سره د افغانستان عیني واقعیتونه پرتله شوي، د کلتورونو او دودونو رنګونه په نښه شوي او د برلین دیوال هم له پامه نه دی غورځېدلی.

دلته د خلق او پرچم د کینې اړخو ګوندونو د پیدایښت، سیاسي ناندریو او سلیقوي اختلافاتو څخه پرده پورته شوې او د میر اکبر خیبر د ترور په خبر باندې خبره شویده. د کور دننه، د خلقي په خلقي او پرچمیانو په خلقیانو د تورونو، تومتونو او ګواهیو ذکر خیر شوی چې د حضرت یوسف او زلیخا یادونه یې تازه کړیده. (وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا - د زلیخا د خپلې کورنۍ ماشوم د هغه د برائت ګواهي ورکړه). دلته (د شرق د نابغه او خلاق رهبر) نور محمد تره کي او د هغه د وفادار شاګرد (د ثور د پرتمین انقلاب زړور قومندان) حفیظ الله امین خپلمنځي اړیکې شاربل شوي او د ځینو په وینا، د هغه فاشستي خویونه یې انځور کړیدي.

دلته په ډیر هنر سره، ځای ځای د غوایي د خونړۍ کودتا په ماښام د پیل شوي ناورین او د باروتو د لوګیو، زندانونو او ناځوانه رقابتونو لاملونه او کرکترونه په ګوته شویدي. دلته د لوستونکو په اذهانو کې د وینو، غمونو او بمونو د صحنو د مجسم کولو یوه ښایستوکې هڅه هم شوې چې د تراژیدۍ ترټولو ناخوالی ښېرکې دی. دلته د وجدان د ویرجنې محکمې اشارې ترسترګو کیږي او د تاریخ ارشیف ته یې د سپارلو مسیر حتمي بولي. دلته په ډیر تفصیل سره، د مرغومې په شپږمې د تاج بیګ ماڼې کې د انقلابي ملګرو د میلمستیا او نعناع د خوندور سوپ کیسه راغلې او د امین د خنداګانو او خوشباوریو خاطرې هم لیکل شویدي. دلته د ببرک کارمل د (اخلاق شوروي و انسان نوین) شعارونو او د برژنیف سیاسي اشتها او وهمونو ته یوه لنډه وقفه د یادونې وړ ده. د هیواد په هرې کوڅې، باندې او کلي کې، د شوروي اتحاد د سرو لښکرو بې کرکې جنایتونه افشا شوي او د مرموزو وحشتونو رازونه لوڅ لپړ شویدي.

د جلال آباد د نامرادې جګړې هغه خونړۍ پیښې ترسیم شوېدي چې یو جهادي مشر یې اوس ستره تیروتنه بولي، خو بیا هم د ښښې د غوښتنې هوډ ورسره نه شته. د شاهنواز تڼي کودتا او له حکمتیار سره د تار غزولو داستان، د عبدالوکیل، جنرال عظیمي، آصف دلاور او د شورای نظار د مشر احمد شاه مسعود ترمنځ د جبل السراج تړون، نور هغه څه دي چې په دې کتاب کې وربانډې بحث شویدی.

د دې ښیرنې نوښتګر ښیرونکي، اجمل اټک یوسفزي د لمر او سیوریې په پیوند کې مزل کړی، خپله عاطفه یې زندۍ کړې او د کینې لاسونو سیالو اړخونو متبادل تومتونه یې په بې پرې بڼې کاږلي او له ټولو سره یې ځان په یو واټن کې ساتلی دی. پخپله داسې وایي: (قضاوت، سپینول او تورول زما کار نه دی او نه د کوم لوري یا شخص سره خواخوږي او فکري تړاو لرم. نه د مغرضو کسانو په شان دومره تنګ نظر او وړوکې فکر لرم چې په دغه شان حساسو او ملي مسائلو کې خپل آند او سلیقه ورګډه کړم). زما په فکر، که کوم خلقي دا کتاب ولولي ښایي ووایي چې دا خو پرچمی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دی، که پرچمي يې مطالعه کړي نو ممکن ګومان وکړي چې دا کس به حتما خلقي وي؛ خو که اخواني ټپپه بنده يې ولولي نو ضرور به وپوښتي چې دا په کې لا څوک دی؟
يوسفزی په دې باور دی چې: د افسوس خبره دا ده چې ترننه هم د دغو پېښو اصلي عاملينو يو هم خپلې تېروتنه نه ده منلې. د ولس او تاريخ نه يې بخښنه ونه غوښتله، بلکې هڅه کوي چې خپلو غلطيو، بغاوتونو او دې ستر ناورين ته توجيهات پيدا کړي او د خپلمنځي اختلافاتو پړه هم يو په بل باندې واچوي. دغو سرو انقلابيانو د هېواد اکثريت وګړي اشرار او د امپرياليزم ګوډاګيان بلل؛ مخالفين چار ماري کيدل، پوليګون کې خالي ځای پاتې نه شو او د بي بي سي د راډيو اوريدل جرم وو. خو نن همدغه ملګري د دوئ په اصطلاح له اخوان الشياطين وړاندې د غرب سيوسيال ته ناست دي.
دا کتاب کې چې ۴۱۰ مخونه لري، ما تر پايه نه دې لوستي خو څو ټکو ته مې پام شو: له ۱۶ مخ څخه تر ۱۰۸ مخ پورې له خال خال پيرګرافونو پرته ټول يې دري/ فارسي دي چې بايد ژباړل شوي وای. څو ځايه مې د املائي غلطيو ترڅنګ، ګرامري غلطۍ هم وليدلې او د علمي ميتود له مخې، د کتاب په پای کې د ماخذونو او سرچينو د يادولو په ځای د ۲۹ مطرحو ګوندي او پوځي افسرانو په عکسونو باندې بسيا شوېده. بله دا چې په کتاب کې د ۱۹ برخو يادونه شوې خو اوله برخه يې ما پيدا نه کړه؛ بهتره به وه که کتاب په فصلونو باندې وېشل شوې وای او بيل بيل عنوانه ورته غوره شوي وو.
۵۱ کلن يوسفزی د ننګرهار په کامې کې زيږيدلی، د شعر وړمو او خوږو يې د هيواد او کوزې پښتونخوا د هنرمندانو د حنجرو ذائقه برابره کړې او د هندوستان څو کلاسيکو سندرغاړو يې هم اشعار زمزمه کړيدي. تردې يې دمه پنځلس کتابونه د نثر، شعر، طنز، ناول او تحقيق په برخې کې ليکلي او چاپ کړي چې ارګ يا مرګ، پښتانه مباح الدم دي، رڼې اوښکې او د شربت ګلي کيسه يې د يادولو دي.
زه ګران اجمل جان ته له ستر خالق څخه د لازياتو نظمونو، نثرونو او پنځونو توفيق غواړم او هيله کوم چې قلم يې تل له رنګونو او ذهن يې له رنګينو خيالونو ډک وي.
---------------------------------------------------------
پاملرنه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نورې ليکنې او څېړنې د هغه په فيسبوک او يوټيوب چينل کې ولولي او وګوري. ادرس يې دا دی: Wali Malakzay


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ